## په سمنګان کې ۹ تنه پر روغتیايي کارکوونکې د جنسي تیري په تور نیول شوي

د سمنګان ولایت پولیس وايي پر روغتیايي کارکوونکې د یوه پېر جنسي تیري په تور یې پنځه کسان نیولي دي. د رپوټونو له مخې پر دغې روغتیايي کارکوونکې تېره اوونۍ د سمنګان ولایت د رو دواب ولسوالۍ په روغتیايي مرکز کې یوې ډلې کسانو جنسي تیری کړی دی. د رپوټونو له مخې دغې روغتیايي کارکوونکې چې جنسي تیری پرې شوی، تیری کوونکي پېژندلي او پولیسو ته یې ښودلي دي. دغه کسان همدارنګه په دې ملامت شوي چې پر دغه روغتیايي مرکز د برید پر وخت پر وسلو سمبال وو او یو بل روغتیايي کارکوونکی یې سخت وهلی او ټپي کړی دی. د سمنګان د پولیسو ویاند هاشم بیان ویلي چې له نیول شویو کسانو څخه یې څلور تنه له ۱۸ کلونو ټیټ عمر لري او نور یې د ۲۵ او ۳۰ کالو ترمنځ دي. ښاغلي بیان وویل: «دغه کسان د دوو روغتیايي کارکوونکو د ادعا له مخې نیول شوي دي. دوسیه یې څارنوالۍ ته استول شوې او قضیه تر پلټنې لاندې ده.» د سمنګان د والي ویاند صدیق عزیزي هم ویلي چې ټوله هڅه یې دا ده چې دغه پېښه سمه وڅېړل شي او جزیات یې ځرګند شي. مقامانو ویلي چې تر اوسه یې پر دغه روغتیايي مرکز د برید د انګیزې په هکله اطلاعات ندي ترلاسه کړي

Ketabton.com

## ...کار د دوام پر وړاندې د سیاسي مخالفانو درېځ کودتا ده

...وام پر وړاندې د حکومت د سیاسي مخالفانو درېځ د اساسي قانون خلاف دی او کودتا بلل کېدای شي.

د حکومت دې سیاسي مخالفې ډلې د دوشنبې په ورځ یوه خبري غونډه کې وویل چې ولسمشر اشرف غني باید پنځو سرپرست حکومت ته واک وسپاري. خو ارګ وايي،

درېځ د اساسي قانون خلاف دی او کودتا بلل کېدای شي. د ولسمشر د ویاند مرستیال صمیم عارف د سې شنبې په ورځ ... راډیو ته ویلي، په دې اړه د اساسي قانون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**